

# په البرټا کې د ۵ کلونو څخه کم عمره ماشومانو لپاره د واکسینونو مهالویش

| په البرټا کې د ۵ کلونو څخه کم عمره ماشومانو لپاره د واکسینونو مهالویش | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| واکسینونه (پر وړاندي مخنیوی کوي) | دوز | ۲ میاشتني | ۴ میاشتني | ۶ میاشتني | ۱۲ میاشتني | ۱۸ میاشتني | ۴ کاله |
| **DTaP-IPV-Hib-HB**<br>ډیپتیریا، تیتانوس، پرتوسس، پولیو، د هیموفیلس انفلونزا ډول بی، هیپاتیت بی | | ✓ | ✓ | ✓ | | | |
| **Pneu-C13** (نیوموکوکل) | 3 doses for non-high risk infants | ✓ | ✓ | | ✓ | | |
| | 4 یوازې د لوړ خطر لرونکي ماشومانو لپاره | ✓ | ✓ | ✓ | ✓ | | |
| **روټا ویروس** | | ✓ | ✓ | | | | |
| **MenconC** (مننګوکوکل ناروغي) | | | ✓ | | ✓ | | |
| **انفلونزا** | Every year | | | ستاسو ماشوم د 6 میاشتو په عمر کې د فلو واکسین ترلاسه کولی شي او هر کال یو بوسټر ترلاسه کولی شي | | | |
| MMR-var (شری، ممپس، روبیلا، ویروسیلا) | | | | | ✓ | ✓ | ✓ |
| **DTaP-IPV-Hib** (ډیپتیریا، تیتانوس، پرتوسس (توره توخله)، پولیو، د هیموفیلس انفلونزا ډول ب) | | | | | | ✓ | |
| **dTap**-IP ډیپتیریا، تیتانوس، پرتوسس، پولیو | | | | | | | ✓ |

### آیا ستاسو ماشوم کوم واکسین پریښی دی؟

رانیول یې اسانه دي. تاسو شاید اړتیا ونلرئ چې د خپل ماشوم د واکسین لړۍ بیا ځلې راپیل کړئ؛ ستاسو د روغتیا پاملرنې کارمند سره ملاقت یا اپاینمنټ تنظیم کړئ ترڅو واکسین تر لاسه کړي.

### ولې نن ورځ نوی زیږدلی او ماشومان واکسین ته ډیره اړتیا لري؟

د یوماشوم د زیږون سره دوی د جدي ناروغیو لکه د توری توخلی پر وړاند په خطر کی قرار لري. واکسینونه ماشومان د مخنیوي وړ ناروغیو په وړاندې ساتي. او د ماشومانو د روغتیا په ساتلو کې مرسته کوي ځکه چې د ډیری کلونو دمخه په پرتله د دوی لږ شمیر ناروغه کیږي یا مړه کیږي.

### ایا واکسین جانبي عوارض لري؟

جانبي عوارض یې معمولا عادی او لنډمهاله وي لکه ژړا، تبه، او لږه ناراحتي. ډاډه اوسي، په کاناډا کې کارول شوي واکسینونه په کلکه ازمول شوي او خوندي دي. واکسینونه ستاسو بهترینې وسیلې دي چې ستاسو د عزیزانو روغتیا او هوساینې تضمین کوي

### څوک باید واکسین ترلاسه نکړي؟

هغه ماشومان ممکن واکسین ترلاسه نکړي که چیرې:

- دوی د واکسین له هرې برخې سره حساسیت لري
- دوی د دې واکسین یا ورته یو واکسین وروسته شدید یا غیر معمولي جانبي عوارض پیدا کړي وي.
- ډیری ماشومان په البرټا کې د دې واکسینونو لپاره وړ او اجازه لري.

### ایا دا سمه ده چې زه انتخاب کړم چې زما ماشوم کوم واکسین ترلاسه کوي؟

دا ښه نظر نه دی چې کوم واکسین پریږدي. واکسینونه د جدي او ځینې وخت وژونکي ناروغیو مخه نیسي، او پرته له دې کیدای شي ستاسو ماشوم په خطر کې وي.

**که تاسو کومي اضافي پوښتني لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلی؟ تاسو کولی شئ:**

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیري سره اړیکه ټینګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیایی مرکز ته په 1-587-392-8062 شمیري اړیکه ټینګه کړي.
- د خپل کورنی ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.


AIMGA Alberta International Medical Graduate Association

19 TO ZERO UNITED AGAINST COVID-19

*Financial contribution:*

Public Health Agency of Canada | Agence de la santé publique du Canada

ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION CREATING BRIGHTER FUTURE